# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# روت: د مينې يو قيصه


ليکونکے: Edward Hughes

خيال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Lyn Doerksen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددگار: Bible for Children
www.M1914.org




©2025 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قيصئ نقل کولے شئ يا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.





کۀ چرې تاسو خپل پلار نيکۀ او هغه ټولو خلقو سره ملاؤ شئ چې ستاسو نه مخکښې ستاسو په خاندان کښې تېر شوی وی نو کېدے شی چې حېران شئ چې هغوئ څنګه خلق وو. په کتاب مقدس کښې د عيسیٰ مسيح په لار نيکونو کښې يوه روت هم وه. يوه موابۍ بت پرسته ښځه وه.



د روت قیصه په اسرائیل کښې د سمسون نه
وروستو شروع کیږی، چې کله د خدائ پاک خلق په خدائ
پاک باندې یقین کول او د هغهٔ تابعداری کول پرېږدی. یو
خطرناک قحط په زمکه راشی. تاسو ته پته ده
چې قحط څهٔ ته وائی؟ بالکل. قحط دې ته
وائی چې کله فصلونه او میوې نهٔ پیدا
کیږی، څناور او کله کله خو خلق
هم د لوږې نه مړهٔ کیږی.






3

یو سړے الی ملک د خپلې ښځې او دوو زامنو
سره د خوراک په لټون کښې بیت لحم نه لاړ
شی. هغه مواب ته لاړ شی، یو داسې ملک ته
چې هلته خلق د بتانو عبادت کوی.



4

په مواب کښې
د الی ملک او د هغهٔ خاندان د پاره
څهٔ ښهٔ ونهٔ شی. هغه مړ شی او د هغهٔ
دواړه زامن هم
مړهٔ شی.




د هغهٔ ښځه نعومی د خپلو دوو کونډو انږوریانو روت او
عرفه سره یواځې پاتې شی. دا دواړه ښځې موابی وې.

5

نعومی چې کونډه وه، نو هغې واورېدل چې خدائ پاک په
خپلو خلقو نظر کړے دے او هغوئ له ئې خوراک ورکړے
دے. نو هغه خپل ملک ته د واپس تلو فېصله
وکړی. خو هغه دوه جینکۍ به څهٔ کوی؟
نعومی هغوئ ته
ووائی چې هغوئ
په مواب کښې
پاتې شی او بیا
وادهٔ وکړی.



6

عرفه خپلې کورنۍ له واپس لاړه شی. خو روت انکار
وکړی. روت یو ښکلے نظم ووائی او وعده وکړی چې
هغه به کله هم د خپلې خواښې نه جدا نهٔ شی.



7


د نعومی ملګرې د هغې خپل کور ته واپس راتلو باندې
خوشحاله شی. خو هغه هغوئ ته وائی چې ما ته نعومی مهٔ
وایئ، بلکه مارا وایئ. ځکه چې
مالک خدائ پاک زما ژوند
تریخ کړے دے. نعومی د
خپلې انږور روت سره خالی
لاسونه واپس راغلې وه.




8



روت به د بتانو عبادت کولو ځنګه چې په مواب
کښې زیات خلق بت پرسته وو، خو هغه خپل
خلق پریږدی او اسرائیل ته د ژوندی خدائ
عبادت د پاره راشی. روت به ډېر محنت
کولو چې د خپل ځان او نعومی د پاره د
خوراک بندوبست وکړی. هغې به هره
ورځ د لَو ګرو پسې پاتې شوی
وږی راټولول.



9



بوعز، چې د پټی مالک
وی نو هغهٔ واورېدل چې
روت خپلې خواښې نعومی
سره څومره ښهٔ سلوک
کوی، چې کله ورسره هغه
ملاو شی نو بوعز خپلو لو
ګرو ته حکم وکړی چې
هغې د پاره څهٔ وږی د
ګېډو نه هم ورکړی. د
بوعز روت خوښه شی.

10



چې کله روت نعومی
ته د بوعز او د هغهٔ
د مهربانۍ په حقله
ووائی، نو هغه بوډۍ
ښځه د خدائ شکر
وکړی. چې دا سړے
زمونږ نزدې رشته
دار دے او زمونږ
خپل دے.

11





څهٔ وخت پس
بوعز روت سره
وادهٔ وکړی. او د نعومی او د هغې د
خاندان د زمکو خیال ساتل غواړی. خو
د یو بل رشته دار حق ړومبے وی. هغه
سړے زمکه غواړی خو روت سره وادهٔ
کول نهٔ غواړی. شریعت وائی چې هغه
د وادهٔ نه بغېر زمکه نهٔ شی اخستلے.

12

په هغه ورځو کښې خلق د مسئلې حل کولو د پاره لاس نهٔ
ملاوهی. بوعز خپله څپلی وباسی او د اعلان په طور ئې
هغه بل کس له ورکړی. مسئله حل شی. روت اوس
د هغهٔ ښځه شی. اوس هغه او نعومی د
هغهٔ د خاندان حصه جوړې شی.



13

بوعز او روت د خپل
ړومبی زوئ نوم عبېد
کیږدی. هغه د داؤد،
چې د اسرائیلو یو
عظیم بادشاه وو د
هغهٔ نیکهٔ وی.



14

خو بله د حیرانتیا خبره دا ده چې دا ماشوم عبېد د
عیسیٰ مسیح په پلار نیکونو کښې راځی. عیسیٰ مسیح
د داؤد د خاندان نه د بادشاهانو بادشاه او د دنیا
خلاصوونکے جوړ شو.






روت: د مینې یو قیصه


دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

روت

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 130:119






16 60



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولی خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲